**د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي د بندیدو ورکشاپ پیل شو**

د پوهنې وزارت د جندر آمریت د خپلو برنامو په لړ کې دا ځل بیا د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي د له منځه تلو په اړه ۱۶ ورځنی کمپاین پیل کړ.

د پوهنې وزیرښاغلي داکټر محمد میرویس بلخي د ښځو پروړاندې د تاوتریخوالي او د دغه پدیدې ډیر والی په ټولنه کې د ښځو چوپتیا په ګوته کړه او ټینګار یې وکړ چې په ښوونځیو او د زده کړو په مرکزونو کې باید د برابرۍ فرهنګ بنسټیز شي ښاغلي بلخي زیاته کړه: د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي د له منځه وړلو په لار کې باید د اصلي ظرفیتونو څخه کار واخیستل شي نوموړي وویل: د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په مبارزه او د دغه فرهنګ د بنسټیز کولو په لاره کې د نارینه او ښځینه و رول برابر دی وروسته د جندر آمریت سرپرستې آغلې فرشته سادات هم د موضوع په اړه خبرې وکړې زیاته یې کړه: د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي د بندیدو تر ټولو مهمه او ارزښتناکه مبارزه هغه ده چې لومړې دا مبارزه له ځان څخه پیل کړو او د دغه پدیدې د بندیدو په وړاندې ودریږي او وروسته بیا دغه مبارزه په ټولنه کې پراخه کړو ترڅو په راتلونکي کې د یوې داسې ټولنې د شتون شاهدان واوسو چې په هغه کې هیڅ راز داسې ستونزې شتون ونه لري همدا راز نوموړې د ښوونې او روزنې رول د ټولنې د افکارو په بدلون کې ستر او مثبت وارزوه. په پای کې د جندر د همکارانو لخوا د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي د قانون په اړه یو پرزینتیشن وړاندې شو.



